


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# مجيب الرحمن « خطيبي »

د نشر نېټه: 27 جنوری 2026 میلادی

# غـزل

چي ستا په عشق کي دېوانه يم، ښه يم
بلو لمبـو کي پـروانــه يم ، ښه يـم

نوم مي تر خدايه پورې ته رسوې
ستــا پــه دعا کي ترانه يم ، ښه يم

اوښکي او شپه دواړه غمازي شولي
د هرچا خوله کي افسانه يم ، ښه يم

چي پــه اغزيــو مي سفرته ګورم
دا چي لا مست يم مستانه يم، ښه يم

بې له تا ژوند يوتش تصوير وبوله
په تا ابــاده خــزانه يم ، ښه يم

***

مجيب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org